**بسم الله الرحمن الرحيم**

**د پوښتنې ځواب**

**د ادليب د جګړې اړوند نړيوال او سيمه ييز دريځونه**




**پوښتنه:**

د سوريې نظام ځپل ځواکونه د ادليب ولايت جنوب لوري ته ولېږل او روسيې هم د ادليب د جګړې لپاره تياری وښود، يانې په سوريه کې «وروستی لويه جګړه!» او ترڅنګ يې پوځي تمرينونه هم ترسره کړل چې دا د مديترانې په ختيځ کې د نوي تاريخ ترټولو پراخ عمليات دي. د ۲۰۱۸ م کال د سپټمبر پر ۷ مه، په تهران کې د روسيې، ترکيې او ايران تر سرمشرـيزې وروسته ډېر خلک د جګړې د پيلېدو په تمه و. د ترکيې ولسمشرـ اردوغان په ادليب کې د جګړې له پيښېدو سره مخالفت درلود، ځکه نو د جګړې پرځای يې د خوندې سيمو د رامنځته کېدو پر سر د اردوغان او پوتين ترمنځ د ۲۰۱۸ م کال د سپټمبر پر ۱۷ مه هوکړه وشوه. د دغه بدلون دليل څه دی؟ امريکا هم په تونده لهجه ګواښ وکړ چې د کيمياوي وسلو بريد به و نه زغمي او ځينې اروپايي هيوادونو هم ياد ږغ بدرګه کړ... د ادليب د جګړې په تړاو د نړيوالو او سيمه ييزو دريځونو واقعيت څه دی؟

**ځواب:**

د دې لپاره چې د ادليب د جګړې په تړاو په نړيوالو دريځونو پوه شو، موږ بايد لاندې واقعيتونه په نظر کې ونيسو:

1. په پيل کې، موږ ويلی شو چې امريکا د ملاتړ تر نامه لاندې مخالفين تېرباسي. امريکا د ترکيې او سعودي دولتونو تر شاه ولاړه ده، ترڅو د دوی له لارې د «ګازرو او لرګي» يانې د مکافاتو او مجازاتو د

تګلارې پر بنسټ سوري ډلې تېرباسي او د بیا پخلاینې او اوربند لور ته یې کشوي، ترڅو د مخالفینو له لوري نیول شوي سیمې د سوریې نظام ته تسلیم کړي. په حقیقت کې په جنوب کې د امریکا پیغام مخالفو سوري ډلو ته څرګند او پرانیستی و، چې دوی دې د سوریې د پوځ د تهاجمي بریدونو په تړاو له امریکا د ملاتړ غوښتنه نه کوي. په ملګرو ملتونو کې د امریکا استازې نېکې هیلې په یوه خبري کنفرانس کې د ادلیب په تړاو وویل: «دا یو وېرجن حالت دی او که دوی غواړي چې سوریه په خپله ولکه کې واخلي، دوی دا کار کولی شي» د نوموړې اشاره د بشارالاسد حکومت او د دوی متحدینو روسیې او ایران ته وه.... نوموړې زیاته کړه: «خو دوی یې د کیمیاوي وسلو په مټ نه شي کولی». (رویټرز، ۴/۹/۲۰۱۸) د امریکا مخالفت د کمیاوي وسلو پر سر دی، نه د نظام له لوري د سوریې د کنټرول پر سر. دا د امریکا د لویو درستیزانو د کمېټې مشر جنرال جوزف ډنفورډ له خبرو په ډاګه ښکاري. «د ترکانو، سوریایانو او روسانو ترمنځ د ترهګرۍ ضد عملیاتو په تړاو نور بحثونه باید وشي، چې دا یوه سمه طریقه ده او له هغه دودیزو پراخو عملیاتو څخه به بېل وي». هغه وویل: زه وړاندیز کوم چې د ترهګرۍ ضد عملیات په داسې طریقه وشي، چې د ملکي وګړو مرګ ژوبله په کې کمه وي». (ریوټرز، ۴/۹/۲۰۱۸) امریکا هر هغه وخت چې وغواړي کولی شي خپله تګلاره د نظام په مټ پلې کړي، د کیمیاوي وسلو موضوع د پلمې په توګه راپورته کوي. سوري نظام د امریکا له ملاتړ څخه بشپړ ډاډ لري. د امریکا له ملاتړ پرته ایران او روسیه به سوریې ته نه وو راغلي، ترکیې او سعودي به پر وسله والو ډلو فشار نه و راوړی چې اور بند وکړي او له نیول شویو سیمو څخه ووځي، ترڅو سوري نظام یې ونیسي او همدا رنګه د سوریې وحشي نظام به په نړیواله ټولنه کې نه و مطرح شوی چې د جینوا په خبرو کې برخه واخلي او هغه مشروعیت به یې نه و ترلاسه کړی چې د پاڅون په لومړیو کلونو کې یې له لاسه ورکړی و.

2. امریکا د روسیې پوځي مداخلې ته اجازه ورکړه، چې د سوریې له نظام څخه ملاتړ وکړي. روسیې، ایران او ملېشه و ورسپارل شوې دنده بشپړه کړه او په پایله کې سوریې نظام د سوریې ډېره برخه په خپله ولکه کې واخیسته. تر ټولو وتلې او مهمه برخه چې د نظام له ولکې څخه بهر پاتې ده، هغه ادلیب دی... روسیه په سوریه کې ښکېله شوې او غواړي چې ادلیب ته په زور سره ننوځي، ترڅو له یاد پوځي کړکېچ څخه را بهر او سیاسي چارو ته پاملرنه ډېره کړي. امریکا بیا غواړي چې د ادلیب تر جګړې مخکې سیاسي حللاره ولټوي او د ادلیب موضوع څخه په ګټې اخستنې سره پر روسیه فشار راوړي او یاد پوځي کړکېچ لا پسې اوږد او یا یې هم لنډ کړي، په داسې طریقه چې روسیه د امریکا سیاسي حللارې ته غاړه کېږدي او شرط یې دا وي چې روسیه او مخالفین به دواړه له سوریې څخه خپلې اډې باسي. یانې روسیه به خوښه شي چې د نورو زیانونو له ګاللو پرته سوریه پرېږدي! د ترکیې مخالفت له روسیې سره د ادلیب د جګړې په تړاو، د امریکا پلان دی چې ترکیه یې پلی کوي.

3. د ټرمپ له راتګ وروسته، روسیې له سیاسي حللارې پرته په سوریه کې خپل پوځي ماموریت ته دوام ورکړ او د ترکیې په همږغۍ یانې د امریکا په خوښه یې غوطه ونیول او په ورته لاره یې سهېل هم ونیولو... په ورته وخت کې امریکا له روسیې سره له خبرو کولو څخه ډډه وکړه، ځکه د ټرمپ ادارې د روسیې د پوځي عملیاتو څخه مخکې په سوریه د روسیې لپاره کوم سیاسي رول په نظر کې نه و نیولی. کله چې د سورېې وسله وال پاڅون په ادلیب کې وځپل شو، روسیې غوښتل چې پوځي عملیاتو ته دوام ورکړي، پوځي ځواک یې ولېږلو او په مدیترانه کې یې پوځي تمرینونه وکړل، چې په دغو تمرینونو کې یې په لومړي ځل د خپل تاریخ په اوږدو کې له لویو بېړیو، ستراتیژیکو هوایي وسلو او نږدې واټن ویشتوونکو هوایي وسلو څخه په ختیځه مدیترانه کې کار واخیست. ځان یې په لویه ستونزه کې واچوه؛ روسیې داسې کارونه وکړل چې د پایلو په اړه یې فکر نه و کړی او هغه په لاندې ډول دي:

**الف-** په ادلیب کې د هراړخیزو عملیاتو په تړاو د ترکیې مخالفت: ترکیه په ادلیب کې له هر اړخیزې جګړې سره موافقه نه وه (ترکي وزیر په دې اند و چې «ترهګر» باید پېژندل شوي وای او جګړه ورسره شوې وای او دا یې سمه نه ګڼله چې ادلیب تر هراړخیزې جګړې لاندې ونیول شي او ړندې بمباری وشي). [عنب بلدي، ۲۰۱۸/۸/۱۴] د ترکیې مخالفت د روسیې، ترکیې او ایران د ولسمشرانو ترمنځ د تهران په کنفرانس کې ډاګیزه شو. ترکیې په یو حیرانوونکي لاره د ادلیب ضد جګړې په اړه او د کډوالو له بې سارې ورتګ څخه د روسیې پر وړاندې د خپلې وېرې څرګندونه وکړه. دغې چارې روسیه ناارامه کړه او روسیې جګړه د یوې الې په توګه په پام کې ونیوله، ترڅو په سوریه کې سیاسي حللاره له منځه یوسي. (د ترکیې ولسمشر رجب طیب اردوغان د جمعې په ورځ وویل، چې پر ادلیب ولایت د مخالفینو پر ځایونو باندې به پرله پسې بریدونه په سوریه کې د سیاسي حللارې د له منځه تلو لامل وګرځي... الیوم السابع، ۲۰۱۸/۹/۷). کله چې پر ادلیب باندې د روسیې د جګړې ییزو هڅو پر وړاندې امریکا خپل ږغ پورته کړ، نو ترکیې هغه د څارنې محلونه چې له ایران او روسیې سره یې د شخړې د کمښدو په موخه د یوې هوکړې پر بنسټ جوړ کړي و، هلته یې وسلې ولېږلې. (ځایي سرچینو او عیني شاهدانو د یکشنبې په ورځ سکای نیوز عربي چینل ته وویل، چې د ترکیې یو پوځي کاروان د ادلیب ښار ته چې د ترکیې پولې ته څېرمه پروت او دسوري مخالفینو اونورو ډلو په ولکه کې دی، روان شو. ځایي سرچینو زیاته کړه، د ترکیې پوځي کاروان چې ټانکونه، پوځي وسایل او جنګي توکي په کې شامل و، د سورېې په شمال کې د کفرلوسین له لارې ادلیب او د ادلیب شاوخوا سیمو ته ننوت... سکای نیوز عربي چینل، ۲۰۱۸/۹/۹). له همدې امله، ترکیه په ادلیب کې د نظامي ډلو له منځه وړلو په موخه د روسیې

د هوډ پر وړاندې يو خنډ گرځېدلی دی. پر همدې بنسټ، د تهران له ناستې نهه ورځې وروسته د اردوغان او پوتين ترمنځ په سوچي کې دوهمه ناسته ۱۶/ ۹/ ۲۰۱۸ وشوه.

**ب-** د ايران په دريځ کې د بدلون نښې: ايران د ۲۰۱۸م کال د سپټمبر پر ۷ مه نېټه په غير معمول ډول د تهران سرمشريزه کې په ادليب کې د منځ لارو وسلوالو ډلو او د «ترهگرو» جنگياليو تر منځ توپير ته اشاره وکړه، که څېرته دا د ترکيې ولسمشر اردوغان د دريځ ملاتړ وي، چې جنگ ردوي نو دا د روسيې د دريځ مخالفت دی، له دې څخه د ايران دريځ په ښه توگه جوتيږي: (د ايران د بهرنيو چارو وزير محمد جواد ظريف د شنبې په ورځ په يوه خبرپاڼه کې د خپل هېواد اراده څرگنده کړه، چې د سوريې کړکېچ ته بايد د نظامي حل لارې پر ځای سياسي حللاره ولټول شي، همداراز ظريف د (دير اشپيگل) المانی ورځ پاڼې سره په مرکه کې وويل، ايران هڅه کوي چې ادليب وژغوري، چې ده ورته د «ټول وژنې» نوم ورکړ او دليل يې په سيمه کې د هر راز پوځي بريد سره د خپل هېواد مخالفت ښودلی... (زمان ترکی ورځپاڼه، ۱۵/ ۹/ ۲۰۱۸). که څېرته ايرانيان پر خپل دريځ ولاړ وي، نو روسيه به د ادليب په جگړه کې يوازې وي او له ټينگار سره سره به و نه شي کولای، چې يوازې جگړه مخ ته يوسي.

**ج-** په ټولو کې له خطره ډک دريځ ښايي د امريکا وي، چې ډېر ژر يې د نظامي بريد لپاره ډول وواهه او دليل يې په ادليب کې د شونې کيمياوي وسلې کارول وښودل. روسيه پوهېږي چې امريکا د نظام پر وړاندې يو له هغو ځواکونو څخه ده چې کيمياوي بريدونه څاري. ځکه نو روسيې ډېر ژر مخالف وسلوال تورن کړل چې د دوی پر وړاندې د کيمياوي وسلو د کارولو لپاره چمتووالی نيسي، تر څو د امريکا پاملرنه د هوايي بريد په لور کړي. په دې کې يې آن برتانيه پړه وبلله چې په «کيمياوي دسيسه» کې لاس لري او په عمومي توگه په سوريه کې امريکايي بريدونه روسيه له ډېر شرم سره مخ کوي، خو دا ځل ښايي امريکايي بريد ډېر سخت او لوی وي! بولټن د تگلارې په اړه په يوې وينا کې څرگنده کړه: «موږ هڅه وکړه چې په دغو ورځو کې دا پيغام ورسوو، که چيرته د درېيم ځل لپاره کيمياوي وسلې وکارول شي، نو غبرگون به تر پخوا ډېر سخت وي. زه ويلی شم موږ د بريتانيې او فرانسې سره په سلا او مشورو بوخت يو چې دوی زموږ سره په دويم ځلي بريد کې يو ډول دريځ درلود او همداراز هوکړه يې وکړه چې د بل ځلي لپاره د کيمياوي وسلو کارونه به ډېر کلک غبرگون له ځان سره ولري». (عربيه ۲۱، ۱۰/ ۹/ ۲۰۱۸) روسيه وېره لري چې نه يوازې د امريکا-لويديځ بريد دی چې روسيه له شرم سره مخ کوي بلکې هلته د روسيې پر ځواکونو د بريد وېره هم شته.

**د-** همداراز د ۲۰۱۸م کال د سپټمبر پر ۴ مه نېټه، د يهودي ادارې له لوري پر وادي العيون، مصياف ته څېرمه، د حماة او بانياس په لوېديځ کې او د طرطوس پر ښار باندې نظامي بريدونه ټول د روسيې نظامي اډو ته نږدې سيمې (د روسي اډې ته ۵۰ کيلومتره نږدې) دي دا بريدونه په طرطوس کې د

روسيې نظامې اډې پر سر او د پراخ مانور په جريان کې شوي، چې د روسيې له لورې په مديترانه کې د ۲۰۱۸ م کال د سپټمبر له لومړۍ تر اتمې نېټې پورې په لار اچول شوی وو ، چې په لويه کچه په لسګونو سمندري او هوايي ځواکونو پکې ونډه درلوده، دا تمرينونه په معاصر تاريخ کې د مديترانيې په سمندرګي کې د روسيې تر ټولو پراخ تمرينونه وو. د يهودي اداري له لورې دغه بريد روسيه په بې ساري توګه له ننګونو سره مخ کړې ده. «د سوريې نظام اړوند سنا خبري اژانس راپور ورکړی، چې د اسد نظام هوايي دفاعي ځواک د اسرايلي الوتکو له لورې څو توغنديز بريدونو ته چې حماة ته څېرمه د وادی العيون په سيمه کې شوي وو، ځواب ورکړی. د (سنا) د راپور پر بنسټ هوايي دفاعي ځواک د اسرايلو هغو بريدونو ته ځواب ويلی چې د يوې الوتکې له لوري شوي او په کښته ارتفاع کې د بيروت د لوېديځ له لوري څخه د شمال لوري ته روانه وه او ځينی نظامي سيمي يې په طرطوس او حماة کې تر هدف لاندې نيولې وې، د راکټونو ځواب وويل شو. «له دوی څخه يې ځيني را وغورځول شول او بريد کوونکې الوتکې اړ ايستل شوې چې سيمه پرېږدي». (العربيه ټکی نيټ ۴/ ۹/ ۲۰۱۸) يهودي اداره له امريکا سره له همږغۍ پرته دا جرات نشي کولی چې د روسيې اډې ته څېرمه دا ډول نظامي بريد وکړي، ښايي دوی غواړي دا پيغام ورسوي چې د امريکايي ټيکنالوژۍ مخه په روسي (S-500) هوايي دفاعي سيستمونو نشي نيول کېدای، ځکه نو روسيه به ښايي وېره ولري چې د لوېديځ والو بمبارونه به په سوريه کې د دوی اډې او يا الوتکې په نښه کړي.

**هـ** - دا هغه څه دي چې پېښ شول، ادليب ښار ته څېرمه روسۍ الوتکه له منځه يووړل شوه، چې دې کار په ريښتيا سره روسيه له ستونزې سره مخ کړه: د روسيې هوايي ځواک وياند تورن جنرال ايګور کناشنکوف وويل، «چې (اسرايلي) پيلوټانو روسۍ الوتکه محاصره کړه او بيا يې دې ته برابره کړه چې د سورياۍانو له لورې تر بريد لاندې ونيول شي او په پايله کې د الوتکې د را نسکورېدو لامل شوه. نوموړي زياته کړه: دا ممکنه نه وه چې اسراييلي هوايي څارونکو او د F-16 پيلوټانو دې روسۍ الوتکه نه وي ليدلې، ځکه دا الوتکه د پنځه کيلومترۍ ارتفاع ته را کښته شوې وه، خو بيا هم دوی په قصدي توګه ولمسول. يوه El-20 الوتکه د پنځلس سپرليو سره هغه مهال را نسکوره شول، چې بېرته د حميميم هوايي اډې ته، چې د اللاذقية ساحلي ښار ته څېرمه پرته ده پر لاره وه او دوشنبه ماښام د «مخالفينو د توغنديو» له امله تر بريد لاندې راغله. اسراييلي وياند وويل، چې اسراييلو ته په سوريه کې روسي هوايي ځواکونو مخکنۍ خبرتيا نه وه ورکړې او دوی د عملياتو راپور تر عملياتو څه کم يوه دقيقه وړاندې د ټليفوني ببېړنۍ کرښې له لارې تر لاسه کړ، دوی زياته کړه:موږ ونه شول کولی، چې روسۍ الوتکه کومې خوندي سيمې ته ولېږدوو. (سکای نيوز عربي، د سه شنبه ماپښين ۱۸/ ۹/ ۲۰۱۸) د روسيې د دفاع وزارت وياند ايګور کناشنکوف د ۲۰۱۸م کال د سپټمبر په ۱۸مه نېټه د سه شنبې په ورځ وويل چې (اسرايلو) په سوريه کې د روسيې هوايي ځواکونو مشرتابه ته خبرداری نه دی ورکړی، چې دوی اللاذقيه

ته ځېرمه عملیات لري. کناشنکوف زیاته کړه: اسرایلو د روسي ځواکونو رهبرۍ ته په سوریه کې د پلان شويو عملیاتو په اړه خبرداری نه دی ورکړی. راپور تر عملیاتو څه کم یوه دقیقه مخکې د بېړنۍ ټلیفوني کرښې له لارې راغی، چې په دې موده کې روسۍ الوتکه ونه توانېده چې خوندي سیمې ته شاتګ وکړي. ویاند زیاته کړه چې اسرایلي الوتکې کولی شول چې روسۍ الوتکه تر پوښښ لاندې راولي، ځکه نو وروسته د سوریې دفاعي سیستم له لورې تر برید لاندې راغلل، د نوموړي په وینا اسرایلی الوتکو قصداً د اللاذقیه سیمې ته ځېرمه خطرناکه حالت رامنځ ته کړ، هغه اشاره وکړه چې د ۲۰۱۸م کال د سپټمبر په ۱۷مه نېټه د اسرایلي هوايي ځواک څلور ایف-16 الوتکو اللاذقیه ته ځېرمه څو هدفونه بمبار کړل. دا برید له ټیټې ارتفاع څخه ترسره شو. کناشنکوف وویل، چې د غیر مسولانه ارزونې په پایله کې ۱۵ روسي عسکر ووژل شول، چې دا د روسیې او اسرایلو د ملګرتیا له روح سره اړخ نه لګوي. (عربي سپوتنیک خبر ۱۸/ ۹/ ۲۰۱۸).

**دا ټولې بېلګې ښیي چې روسیه نه شي کولی د ادلیب قضیه له نظامي پلوه حل کړي، ترڅو له دې معما او کړکېچ څخه را ووځي او په دې نه ده توانېدلې چې د یهودي ادارې د تحرکانو مخه ونیسي، کوم چې د امریکا له لورې هڅول کېږي!**

4. ځکه نو امریکا غواړي روسیه په سوریه کې ګیر پاتې شي او تر هغو ونشي وتلای، تر څو د امریکا د پلان سره سم سیاسي حللاره په پوره توګه پلې نشي. د امریکا د ملي امنیت سلاکار جان بولټن د چهار شنبې په ورځ د رویټرز سره په یوې ځانګړې مرکه کې وویل: (روسیه په سوریه کې ګېر راغلې او نورو ته په تمه ده چې هلته تر جنګ وروسته د بیا رغونې لګښت په غاړه واخلي). له دې څخه څرګندېږي چې دا چاره واشنګټن ته له مسکو سره په خبرو اترو کې موکه په لاس ورکوي. بولټن ویلي، چې واشنګټن د مسکو سره د خبرو اترو لاس غځولی، ځکه «روسیه اوس مهال هلته ګېر پاتې ده» نوموړي زیاته کړه «روسیه نه غواړي هلته ګېر پاتې شي...». (سرچینه: عربي. سپوتنیک نیوز ۲۲/ ۸/ ۲۰۱۸).

روسیه د امریکا په دې پالسۍ پوه شوې او ښايي په سوریه کې د امریکا د ښکېلتیا په مفهوم هم پوه وي. روسیه په ریښتیا هلته ګېر پاتې ده او نشي کولی تر هغې ووځي چې د امریکا اجازه نه وي، کوم چې په سوریه کې د نفوذ لپاره ټول وسایل په لاس کې لري. له دې امله، روسیه نشي کولی پر ادلیب هغه برید سرته ورسوي چې د سوریې کړکېچ د پای ته رسېدو په هیله تنظیم شوی و، ځکه ترکیې (د امریکا په لمسون) نیوکه کړې او ایران چوپتیا غوره کړې..... ځکه نو د ایران ناسته چې د ۲۰۱۸ م کال د سپټمبر پر اوومه نېټه ترسره شوه، بې پایلې پای ته ورسېده او د روسیې هغه پلان ونه منل شو چې پر ادلیب د برید لپاره یې درلود او غوښتل یې کړکېچ په روسي حللاره پای ته ورسوي. له دغې ناستې یوازې څو ورځې وروسته اردغان او پوتین ګډه غونډه وکړه او د برید پر ځای پر غیر نظامي سیمو سره

سلا شول! دا د امریکایي مهرباني په پایله کې وشول، نیواستې خبري اژانس د یو امریکایي چارواکي وینا را اخیستې چې د ۲۰۱۸م کال د سپټمبر په ۱۸مه نېټه یې دغه اژانس ته ویلي: «موږ د دې هرکلی کوو، روسیه او ترکیه هڅوو تر څو عملي گامونه اوچت کړي او د اسد د دولت او متحدینو له لورې پر ادلیب د نظامي بریدونو مخه ونیسي... » په دوشنبه د روسي ولسمشر ولادمیرپوتین د خپل ترکي سیال رجب طیب اردغان سره د هوکړې اعلان وکړ.
د ادلیب ولایت په شمال لوېدیځ کې د «غیر نظامي سیمو» جوړېدل به د اکتوبر پر ۱۵ مه پیل شي، چې د نوموړو سیمو اړوندو هېوادونو له لورې به اداره کېږي. روسي ولسمشر د غونډې په پای کې د خپل ترکي سیال سره د سوچي په تفریح ځای کې وویل: «موږ د "غیر نظامي سیمو" پر جوړولو سلا ته ورسېدو، چې د ارتباطي کرښې په اوږدو کې به د ۱۵ او ۲۰ کیلومترو په مساحت سیمه په ځان کې را نغاړي او د روان کال د اکتوبر پر ۱۵مه نېټه به پیل شي. پوتین وویل چې دغه هوکړه د «سخت او جدي حالت» استازیتوب کوي، ترڅو د دې"ستونزې د حل لپاره پرمختگ" رامنځته شي. له خپله اړخه د روسیې د دفاع وزیر سرگي شویگو روسي اژانسونو ته ویلي، چې دا هوکړه به د څو ورځو لپاره د سوریې د مخالفو ډلو پر وروستي سنگر د برید کولو مخه ونیسي. د دې پوښتنې په ځواب کې چې ایا دا هوکړه د دې مانا لري چې هلته به په ادلیب کې کوم نظامي برید نه ترسره کېږي، وزیر په ځواب کې وویل «هو». (د انټرفاکس او تاس اژانسونو په حواله...) په مقابل کې اردغان د دوو ولسمشرانو تر غونډې وروسته په خبرې کنفرانس کې وویل: روسیه به ټول هغه اړین گامونه اخلي، ترڅو دا یقیني کړي چې په ادلیب کې به پر رامنځته شویو امن سیمو کوم برید نه کېږي. (فرانسه۲۴/فرانس پریس خبرې اژانس ۱۷/ ۹/ ۲۰۱۸).

پر همدې بنسټ، روسیې د ادلیب ویشتل ودرول او خپلې هغه بېړۍ یې بېرته راستنې کړې، کومو چې په مدیترانه کې یې نظامي تمرینونه کول، لا تر اوسه روسیه امریکا ته مخامخ او یا د ترکیې له لارې زارۍ کوي چې د ادلیب قضیه له نظامي اړخه تر سیاسي حللارې وړاندې پای ته ورسوي. خو امریکا پر ادلیب د هر ډول نظامي حللارې تر مخه یو سیاسي حللاره غواړي، تر څو د فشار د یو پاڼې په توگه کار ترې واخلي او روسیه په سوریه کې د هغې د نظامي اډو له امله تورنه کړي او بیا اپوزیسون وهڅوي چې د اډو موضوع د سیاسي حللارې پر مهال را پورته کړي... د دې تر شا تر هر څه مخکې د امریکا او ترکیې گټې وې چې روسیه پر ادلیب له برید کولو څخه را وگرځوي او دا هر څه د امریکا د گټو لپاره وشول، نه د دې لپاره چې ادلیب ته له رسېدلو څخه د نظام مخه ونیسي او یا د ملکي وگړو ساتنه وکړي، خو هغه مهال امریکا د حللارې پلي کول غواړي او روسیه یې هم منلو ته اړباسي. بیا نو د ادلیب د وینو تویېدو، د ملکي یا غیر ملکي وگړو، د نظامي او غیرنظامي سیمو په اړه اندېښنه نه لري... او د

دوی دا هر څه کړنې تاریخ په ښه توګه بیانوي، چې دوی د سوریې په بېلابېلو سیمو کې څه وکړل او د دوی جنایتونه ټولو ته ښه څرګند دي...

5. دا په ادلیب کې د سیمیز او نړیوال پلوه د جګړې د مسلې اړوند د اغېزمنو دریځونو واقعیت دی... خو یو څه شته چې د الله په اراده کولی شي په نړیوال او سیمییز ډګر کې د مېز پر مخ بدلون رامنځته کړي، چې هغه په ادلیب کې د هغو ډلو رول دی چې په رښتیا او د زړه له اخلاصه یې د الله لپاره کړي.

نوموړې ډلې دوه ډوله دي:

**لومړی:** هغه ډلې دي چې له ترکیې سره ملګرې شوې، چې په بېلابېلو سیمو کې یې په شاتګ کړی او خیانتونه یې کړي. دوی د ترکیې د پیاوړي فشار په پایله کې د سولې او پخلاینې نظریې خپروي او د دغو ډلو مشران هغه څوک دي چې خپل وجدان او ضمیر یې پلورلی او د سعودي پیسو غرق کړي دي. دا هغه ډلې دي چې ترکیې د استانې خبرو اترو ته و هڅولې او په پایله کې د خوندي سیمو د رامنځته کولو جوګه شوې. دغه ډلې نن ورځ د حقیقت په هنداره کې خپل ځان ویني یانې همدوی وسیلې وې چې د سوریې پاځون یې کاواکه کړ او د ترکیې د ورکړو ژمنو له امله یې ډېرې سیمې له لاسه و وتلې او دا د دوی خطا په ډاګه کوي... ځکه د دغو ډولو لیکې لا له وفادارو او ایماندارو وګړو څخه تشې نه دي پاتې، یوه د پام وړ ګنګوسه د ترکیې د خیانت په اړه د نوموړو ډلو ترمنځ ګرځي راګرځی، اردغان ورڅخه یادونه وکړه لکه د تهران په غونډه کې یې د روسیې او ایران له ولسمشرانو پوتین او روحاني سره په خپلو خبرو کې څرګنده کړه، نوموړي وویل«مخالفه ډله د سیمو د پرمختګ یانې د خوندي سیمو د رامنځته کېدو وروسته د فریب او دوکې خوړلو احساس کوي». (Al Jazeera.net 7/9/ 2018) اردغان منې هغه پلان چې د سوري ډلو د دوکه کولو په موخه یې په لاره اچولی، دوی ته څرګند شوی او دا هغه څه دي چې دی ورڅخه په وېره کې دی. دی انګېرې ښایي دغو ډلو ان تر اوسه پورې له هغو ډلو سره جګړې ته زړه نه وي ښه کړی چې د ترکیې له پلان سره سم د سولییزې حللارې ردول غواړي... او د ترکیې د دوکه کولو له افشاء او څرګندوالي څخه ښکاري که چېرته پر دوی برید کېږي پر وړاندې به یې په بیړه او کلکه جګړه کوي...

**دویم:** نورو ډلو ته ډېر ځلې د رسنیو له لارې د «ترهګرو» نوم ورکول کېږي. دغه ځواک د سوریې په بېلابېلو سیمو کې د ډېرو پاځونوالو د جلا وطنۍ لامل ګرځېدلی، لکه غوطه، سهېل، حمص، د حلب ختیځ ښار او نور. دغه ځواک د سیمې مهمې برخې اداره کوي. د وګړو او جنګي وسایلو په شمېر کې د اختلاف سره سره، ښایې له دوی څخه د هغوی وېره د سوریې په اړه د امریکا په پخوانیو راپورونو کې خلاصه شي او د هغوی په څرګندونو کې راغلي و، چې د سوریې په افوزیسیون کې «افراطي» ځواکونه د سوریې په جګړییز ډګر کې په لویو جګړو بوخت دي، که څه هم د شمېر له پلوه ډېر زیات نه دي.

نو دا هغه سرسخته ځواک دی چې په اسانۍ سره له ماتې سره مخ شي... په ځانګړې توګه له هغه وخته چې د ادلیب سیمه د پاځونوالو وروستۍ سنګر ګڼل کېږي. په عمومي توګه به په دې سیمه کې جګړه سخته وي، لکه څرنګه چې پاځونوال په لومه کې راګېر شوي او له دې پرته بله د وتلو لاره نه شته. د دې ټولو لپاره، له نظامي اړخه اړینه نه ده چې جګړه دې د نظام په خوښه په لاره واچول شي، سره له دې چې د دې موخې لپاره د روسیې له لورې یو لوی نظامي ځواک چمتو شوی. په ادلیب کې د جګړې له اوږدوالي، د نظام له لورې پر محلي ځواکونو او پر خپلو پلویانو د تمرکز سره سره ښایي د هغو نورو سیمو پر مخ دروازې پرانیزي، چې د نظام په ولکه کې وې او اوس به یې له ولکې وځي.

له دې امله، دغه ټولې ښېلا ښېلې دلې که الله سبحانه وتعالی ته مخلصي او رښتنې وي، نو د امریکا د فشار په پایله کې به یې د روسیې له کړکېچ څخه په ګټې اخستنې سره، هغه تورنه او متهمه کړې وي، د ترکیې دوکې، چل او فریب ته به یې غاړه نه وي ایښې او دغه راز د سعودي پیسو ته به یې سترګې نه وي پټې کړي... له دې او له هغې نه وړاندې تل باید د الله سبحانه و تعالی وینا را یاد شي:

**﴿كَمْ مِنْ فِئَةٍ قَلِيلَةٍ غَلَبَتْ فِئَةً كَثِيرَةً بِإِذْنِ اللَّهِ﴾**

[بقرة: ۲۴۹]

*ژباړه: ډېر ځله داسې شوي چې یو وړوکی ټولګی د الله سبحانه وتعالی په امر پر یوه لویه ډله برلاسه شوی دی.*

دوی تسلیم نشئ او له الله سبجانه وتعالی څخه په رښتیا مرسته وغواړئ، نو بیا به دوی د الله په اراده سره د اسلام او مسلمانانو د دښمنانو پلانونه له خاورو سره خاورې کړي او په ادلیب کې به سخته ماتې ور په برخه کړي.

**﴿وَلَيَنْصُرَنَّ اللَّهُ مَنْ يَنْصُرُهُ إِنَّ اللَّهَ لَقَوِيٌّ عَزِيزٌ﴾**

[الحج: ۴۰]

*ژباړه: الله سبحانه وتعالی به هرو مرو له هغو کسانو سره مرسته وکړي، چې د هغه مرسته وکړي. الله سبحانه وتعالی ډېر زورور او بر لاسی دی.*

**۱۴۴۰هـق، د محرم الحرام ۱۲ مه**

**د ۲۰۱۸م، د سپټمبر ۲۲ مه**